سمون یا Match'IN څه ته وايي؟

او که زه ګډون وکړم نو څه پیښیږي؟

**د پروژې په هکله**

موږ د هیلډ سهایم، ایرلانګن او نورمبرګ پوهنتونونو د څیړونکو په توګه، د لاندې ادارو سره په ګډه کار کوو ترڅو تاسو ته په آلمان کې د اوسیدلو (استوګنځی) مناسب ځای پیدا کړو:

- د هیسن د ټولنیزو چارو او ادغام وزارتونه او د ګیسن سیمه ایزه شورا
- د راینلند-فالتز د کورنۍ، میرمنو، فرهنګ او ادغام وزارت(MFFKI)، د راینلند - فالتز د نظارت او خدماتو اداره (ADD) او Diakonisches Werk
- د نیدرزاکسن د کورنیو او ورزشي چارو وزارت.
- د نوردراین-ویستفالن د ماشومانو، ځوانانو، کورنۍ، برابرۍ، کډوالو او ادغام وزارت.

**ویشل - معمولا څه پیښیږي؟**

چارواکي تاسي لاندې لیست شوي ځایونو ته لیږدوي:

- هیسن
- نیدرزاکسن
- نوردراین-وستفالن
- راینلند-فالتز

په بل عبارت، دا هغه ځایونه دي، چیرې چې له تاسو څخه تمه کیږي چې ډیر وخت په کې تیر کړی.

کوم ځای ته چې تاسو لیږدول کیږی، دهغه په هکله تصمیم اړوند چاروکي نیسي. چاروکي ټل هڅه کوي چې ستاسو لپاره ترټولو مناسب ځای ومومي. همدا راز، چاروکي په دقیق توګه نه پوهیږي چې ستاسو لپاره کوم ځای مناسب دی ځکه په عادي پړاو کې د اوږدي مصاحبې زمینه برابره نده.

**سمون- که تاسو پدې پروژه کې برخه واخلئ، څه بدلون به راشی؟**

د سمون یا Match'In پروژې د لارې، موږ له تاسو غواړو مخ کې له دې چې چاروکي تصمیم ونیسي تاسو باید چیرته استوګن شی، په یوه اوږده مرکه کې ګډون وکړی.

مرکه شاوخوا یو ساعت وخت نیسي او دلته د مشاورې په خونه کې ترسره کیږي (د اړیکو لپاره وروستی پاڼه وګورئ).

موږ وروسته چارواکو ته معلومات ورکو او بیا دوی پریکړه کوي چې تاسو باید چیرته استوګن شي. د دې هدف لپاره موږ یو کمپیوټری پروګرام جوړ کړی ترڅو ستاسو ټول معلومات د ټاکل شوي ځایونو سره پرتله شي. په دې توګه، موږ غواړو چارواکو ته وړاندیز وکړو چې ستاسو لپاره ترټولو مناسب ځای غوره کړي.

د دې لپاره چې ستاسو لپاره مناسب ځای پیدا کړو، موږ د ځینو ځایونو په هکله لاندې معلومات راټول کړي دي:

- هیسن

- نیدر زاکسن

- نوردراین - ویستفالن کې

- راینلند-فالتز کې

د مثال په توګه، دغه معلومات د روغتیا، کور او دندې د وړاندیز په هکله دي.

که تاسو غواړی زموږ په پروژه کې برخه واخلی، مهرباني وکړی پوښتنلیک ډک کړی ترڅو موږ ستاسو په هکله اړین معلومات تر لاسه کړو. په پوښتنلیک کې د مثال په توګه کولی شی دا جوته کړی چې تاسې آیا روغتیایي خدماتو یا د ژبې زدکړې ته اړتیا لری او که نه. یا دا چې تاسو په راتلونکې کې کوم کار غواړی ترسره کړی. ستاسو اطلاعات د استوګنځی سره پرتله کیږي او د دغه احتمال چې تاسو ته د استوګنې مناسب ځای چې ستاسو له غوښتنو سره سمون لري لوړیږي. خو د یادونې وړ ده چې د دغه کار د حتمي عملي کولو لپاره هیڅ تضمین نشته.

**سمون په کومو ځایونو کی تر سره کیږی؟**

په هیسن کې لاندې ځایونه دغه پروژه کې شامل دي:

- دارمشتات

- د ګروس ګیرو ولسوالي

- د هیرسفیلډ - روټینبرګ ولسوالي

- د هوختانوس سیمه

- د هوختانوس کرایس ولسوالي

په نیدر زاکسن کې لاندې سیمې په دغه پروژه کې شامل دي:

- د اوریچ ولسوالي

- د هلمستد ولسوالي

- د ګوتینګن ولسوالي

- د هانوفر سیمه

- د هانسی لونبورګ ولسوالي

په نوردراين ويستفالن کې لاندې ځايونه په دغه پروژه کې شامل دي:

- دوسلدورف

- کريفلډ

د پروسيش اولډيندورف ښار، د ميندين لوبيکه منطقه

د لوبيکه په ميندين سيمه کې د پروسيش اولډينډرف ښار

- د راين زيک په اړوند سيمه کې د ترويسډورف ښار

- ووپرتال

په راينلاند-فالتز کې لاندې ښارونه په دغه پروژه کې شامل دي:

- د بيرکنفيلډ سيمه

- د ډونرزبرګ ولسوالي

- کايزرسلاټرن

- کوبلنز

- د ميانز - بينګن ولسوالي

- پيرماسنس

دا پدې مانا ده که تاسو زموږ په پروژه کې برخه واخلئ، په ليست کې ځايونه به ستاسو له معلوماتو سره پرتله شي. که ستاسو لپاره يو ښه سمون پيدا شي، تاسو به هماغه ځای کې استوګن شی، چېرې چې ستاسو د معلوماتو پراساس غوره او مناسب ګڼل کيږي. دا هم شونی ده چې له دې ځايونو څخه هيڅ ځای ستاسو لپاره مناسب نه وي. دا هم شونی ده چې تاسو ممکن لاندی سيمو ته ولېږدول شی:

- هيسن

- نيدر زاکسن

- نورد راين - ويستفالن

- راينلند-فالتز

ځکه چې چاروکي دغه ځايونه ستاسو لپاره مناسب ګڼي.

**ايا زه کولی شم د سمون پروګرام ترسره کړم؟**

څرنګه چې دا پروژه نوي ده، له بده مرغه ټول نشي کولی اوسمهال په دغه پروسه کې ګډون وکړي.

✓ خو تاسو کولی شی په دغه پرګرام کې ګډون وکړی که چيرې تاسي:

- لږ تر لږه باید ۱۸ کلن وی

- یوازې مهاجر شوي یاست - پدې معنی چې تاسو اوسمهال په دې مرکز کې پرته له میرمن یا کورنۍ څخه یاست

- او تاسې لاهم د پناه غوښتنې په عادي پروسه کې یاست.

**له بده مرغه، دا مهال، تاسو نشی کولی د سمون په پروګرام کی ګډون وکړی که چیرې تاسې:**

- له 18 کلونو څخه کم عمر لرئ یا
- تاسو د کورنۍ، خاوند او میرمنې سره، دلته په مرکز کې ژوند کوئ، یا
- د پناه غوښتنې پروسه کې پرته د عادي پناه غوښتنې په لړ کې یاست.
- که تاسو ډاډه نه یاست چې تاسو د ګډون اجازه لرئ یا نه، د مشورې مرکز سره اړیکه ونیسئ. د اړیکو معلومات په وروستي پاڼه کې دي.

په راتلونکي کې، موږ غواړو چې دا پروژه د کورنیو په ګډون نورو کسانو ته هم وړاندې کړو. که تاسو لاهم نشی کولی په دغه پرګرام کې ګډون وکړئ، زموږ بخښنه ومنئ.

**ډاډه نه یم چې ګډون وکړم یا نه:**

پدې پروژه کې ګډون ستاسو لپاره په خپله خوښه دی. که تاسو ګډون نکوئ، دا به ستاسو د پناه غوښتنې د پروسې یا نورو رسمي پریکړو باندې هیڅ منفي اغیزه ونلري. ګډون او یا نګډون یوازې پرهغه ځای چې تاسې په کې ځای په ځای کیږئ اغیزه لري.

تاسو کولی شئ مخکې له مخکې مشوره ترلاسه کړئ چې آیا په دغه پرګرام کې ګډون وکړئ او کنه. د دغه کار لپاره لاندنې معلومات وکاروئ.

**تاسو دوه ټاکنې لرئ:**

✓ زه د سمون پروژه کې ګډون کوم.

که تاسو غواړئ د سمون په پروسه کې برخه واخلئ، تاسو باید ځینو پوښتنو ته ځواب ووایاست. کوم معلومات چې تاسې وړاندې کوئ هغه د یو مناسب ځای موندلو لپاره کارول کیږي. له همدې کبله، دا مهمه ده چې پوښتنو ته په سمه او صادقانه توګه ځواب ورکړئ. ستاسو معلومات به پرته ستاسو له رضایت څخه له نورو سره شریک نه شي او ستاسو د پناه غوښتنې په قضیه کې به ونه کارول شي. په همدې ډول ستاسو ګډون به ستاسې د انتقال پر وخت اغیزه ونکړي.

زه د سمون یا Match'In پروژه کې ګډون نکوم

که تاسو نه غواړئ چې د سمون په پروژه کې برخه واخلئ، تاسو به په معمول ډول ځای پر ځای شئ. په دې پروسه کې به یوازې ستاسو د هیلو او اړتیاو یوه برخه په پام کې ونیول شي خو تاسو به ډېرو ښاروالیو ته لاس رسی ولرئ. کومې سیمې ته چې تاسو لیږل کیږئ کیدای شي لاندنی ښارونه یا د ښارونو څنډې وي:

- په هیسن کې

- په نیدر زاکسن کې

- په نوردراین – ویستفالن کې

- په راینلند-فالتز  کې

خو تاسو نشی کولی خپل استوګنځي په خپله انتخابکړی.

نور معلومات

که غواړی په پروژه کې له ګډون څخه مخ کې له چا سره مشوره وکړی، کولی شی چې د لاندې مشاورې مرکز سره په تماس کې شی. په مرکه کې د ګډون په صورت کې، دغه د مشاورې مرکز ستاسو سره د سمون مرکه هم تر سره کوي.

لاندې ویډیو د سمون پروژې په هکله نور اړین معلومات هم وړاندې کوي: